مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۹/۰۵/۰۳

# نن زه کېنمه،

## نن مي خپله حافظه ګورمه



**بیا مي د خپلي حافظي کتاب له سره لولم**

**که د تا نوم او د تا یاد مخي ته راغی چېرې**

**نو به یې وتورم او ایسته به یې وغورځوم**

**ما دغه کار وکړ خوشاله شومه**

**خو په دې وروسته پوه شوم**

**چې تورل شوي واوره**

**بیا په اوبو بدلېږي**

**او ستا یادونه چې دي**

**لکه اوبه داسي دي**

**زما د وچي حافظې بیدیا یې شنه ساتلې**

۲۰۱۹/۰۳/۱۱
هېدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ